# زما پېنځه ورځې په باچاخان مرکز کښې




باچاخان مرکز پېښور کښې د لیډر شپ په اړه یو سیمینار وشو. د دې سیمینار تابیا BKTFF کړې وه. د پروګرام په شورو کښې ډاکټر خادم حسین د یو ښهٔ لیډر په حقله په زړهٔ پورې معلومات ورکړل. دوي ووئیل چې یو ښهٔ لیډر هغه وي چې هغه یو ښهٔ سوچ لري او بیا د هغې سوچ په وجه په معاشره کښې په کلتوري، سماجي او معاشي اړخونو کښې د بدلون لپاره هلې ځلې کوي. او د څهٔ قسمه قربانۍ ورکولو نه درېغ نهٔ کوي. هغوي زیاته کړه چې د یو انسان نه د ښهٔ لیډر په جوړېدو کښې بلها موده لږي. ډاکټر خادم حسین صیب د پاپائیت،امریت او اشرافیت له وجې د خلقو د غلام ساتلو او په خاص توګه په ښځو د سړو د برترۍ او هغوي کمزورې ګڼل په تفصیل سره خبرې وکړې.

د سیمینار د ټولو نه ښهٔ خبره دا هم وه چې په دې کښې د ANP او د پښتونخوا سترو مشرانو ګډون وکړو. او د پښتونخوا پهٔ مسئلو او سیاست ئې ډېر په روڼ تندي خبرې وکړې او زمونږ د هغهٔ سوالونو جوابونه ئې راکړل کوم چې د ډېر وخت نه زمونږ او زمونږ په شان د نورو ډېرو خلقو په مازغو کښې ګرځېدهٔ.

په دغه سترو مشرانو کښې وړومبي مشر سردارحسین بابک صیب د ANP د بدنامولو ایلیکشن مهم ته د نهٔ پرېښودلو او په خاص توګه هغهٔ وجوهات هم په ګوته کړهٔ. د کومو ترمخه چې د ANP د ۸۰۰ نه زیات مشران شهیدان کړے شول.

زما د یو تپوس په جواب کښې چې په درګئ کښې نظریاتي خلق ولې شا ته دي. او دغلته تنظیمي ډهانچه ولې زوال پزیر ده. دوي ووئیل چې په دې اړه مونږ کار شروع کړے دے.

او ډېر زر به په ټوله صوبه کښې حالات ټیک کړے شي.

افراسیاب خټک صېب د انساني بنیادي حقونو په لړ کښې د خلقو د حقونو لپاره د شوو معاهدو ذکر وکړو. دوي زیاته کړه چې د خپلې مرضۍ سره تګ راتګ د انسان بنیادي حق دے.

بشیر متہ صېب د پښتنو د تاریخ په حواله ډېر سودمند معلومات ورکړل. هغوي په خپلو خبرو کښې احمد شاه بابا او شیرشاه سوري د پښتنو هیروز وګرځول. او د پښتنو په مختلفو سیمو کښې د هغوي په تقسیم ئې هم خبرې وکړې.

د خوږې او پستې ژبې څښتن میا افتخار حسین صېب د میډیا په حواله خبرې وکړې. او په ډاګه ئې کړه چې د ریاست ټولې اداري میډیا ته محتاجه دي. دوي ووئیل چې د میډیا یو ښۀ او بل بد اړخ وي. او د بدقسمتۍ نه دلته بد اړخ په راج کښې دے. څه خلق د پېسو او څه خلق د ویرې له وجې خپل اواز بدلوي.

دوي زیاته کړه چې زمونږ سستم نشته میډیا د یو کس نه هیرو او د بل نه زیرو جوړ کړي. او دا چې د پښتونخوا خو د سره میډیا نه شته.

زما د یو تپوس په جواب کښې چې د باچاخان د عدم تشدد فلسفې باوجود زمونږ د پښتو په فلمونو کښې یو ښځه لکه د خانخیلې په شان څلویښت پنځوس کسان ښۀ په اسانه وژني. دوي د یو ښۀ شپېه خندا نه پس ووئیل چې د وسائلو د کمې په وجه زمونږ فلمونه په بل ځائې کښې جوړېږي. او دا چې زمونږ خپله هیروین هم نه شه.

مونږ پرېس کلب ته پېسې ورکړې. او د اباسین ټي وي چېنل لپاره مو زمکه هم اخستې وه. خو د سامان لپاره اجازت مېلاؤ نه شو. خو زۀ تاسو له تسلي درکوم چې هغۀ وخت به لرې نۀ وي چې زمونږ به خپله میډیا وي او خپل صحیح کلتور به په ډاګه کولے شو.

زمونږ قدرمندې او خوږې مېلمنې بشرى ګوهر د ښځو په مسئلو ښه په آزاد زړۀ خبرې وکړې. هغوي ووئیل چې د باچاخان نه واخله تر اوسه پورې ANP چرته هم ښځې پابند کړي نۀ دي. او بېګم نسیم ولي خان وړومبۍ ښځه وه چې په جنرل سیټ منتخب کړے شوې وه. او د ANP په وخت کښې په پښتونخوا اسمبلۍ کښې ښځو د سرو نه ډېر کار کړے دے. دوي زیاته کړه چې ښځې اول انسانان او وروستو مور،خور او لور ده. او دا چې مونږ دوي لپاره کومه لهجه استعمالوو هغۀ ټیک نۀ ده. لکه مونږ اکثر وایو چې ما څۀ بنګړي نۀ دي اچولي او دغه شان مونږ دوي ته دا احساس ورکوو چې ګنې چا بنګړي اچولي وي هغه به کمزورے وي.

دغه شان مونږ په دې وخت کښې د ډېرو حقیقتونو نه خبر شو او هغه هر څه را ته دروغ ښکاره شو کوم چې د ANP په حقله خلقو وئیل. او دا خبره رښتیا شوه چې رښتیا راځي نو دروغو کلي وران کړي وي.